Australian Government

# د ځوکلتوري چوکاټ بیاکتنه

## دځو کلتوري چوکاټ دبیاکتنې ورپېژندل

د استرالیا حکومت خوښ دئ چې د ځوکلتوري چوکاټ د بیا کتنې راپور خپور کړي.

بیاکتنه داسترالیا دځوکلتوري ټولنې حالت معاینه کوي، چې په قوانینو، پالیسیو او په اداري اېښوونوکې د بدلونونو وړاندیز کوي چې د هغې پیاوړتیا او اوسنیو ننګونو ته د ځواب توان ولري.

درې نامتو استرالیانو- ډاکټربلنټ هاس ډیلالAO، اغلې نیادول نیوون OAM او مېرمن کریستین کاسټلي- بیاکتنه ترسره کړه د بیا کتنې پلاوی د یوه باخبره اړونده ګروپ له خوا ملاتړ شوئ: ښاغلی اسمونډچیو؛ اغلې سواتي داوي؛ اغلې رانا ابراهیمي؛ ښاغلی بچارهولي؛ ښاغلی جان کامارا؛ اغلې پریمیالیواسی او ښاغلی محمد الخفاجي.

حکومت د بیا کتنې په اړه معلومات خپور کړئ، په ۳۳ ژبو کې یې دمتن په بڼه او په ۳۵ ژبو کې یې په غږیزه بڼه د سپارښتنې بلنه ورکړې. پلاوي ته ۷۹۶ سپارښتنې رسېدلي

له انګلیسي پرته په ۱۲۶ نورو ژبوکې، کوم چې مونږ هغه ژباړل شوي تر څو له نظره یې خبر شي. همدارنګه له ۴ څخه تر ۲۴ کلنو پورې نویو ځوانانو ته هم بلنه ورکړل شوې ترڅو زمونږ د ځو کلتوري ټولنې په اړه خپلې تجربې او نظرونه په عکسونو کې څرګند کړي. دهغوی ۱۰۳ هنري کارونه کیدای شي چې په هایپرلینک www.homeaffairs.gov.au/onlineartexhibition کې وکتل شي.

## چې زمونږ د ځو کلتوري بریا کیسه ساتي

لږترلږه په دې وچه کې بومي او د توریس ستریت ټاپو خلکو د ۶۵۰۰۰ کلونو لپاره ډېر کلتورونه ساتلي دي دوی داستعمار له وخته د دوی د له منځه وړلو په ترتیب سره او کله کله د زور له لارې مقاومت کړئ دئ ځو کلتوریزم د لومړیو ملتونو دتاریخ او کلتورونو د لا زیاتې پوهاوی او لمانځلو سره په بریالیتوب پیلیږي.

په داسې حال کې چې داسترالیا وچې ته مهاجرت په ۱۷۸۸ کې پیل شو، د ۱۹۴۵ کال راهیسې استرالیا ۷۰۵ میلیونو مهاجرو ته هرکلی ویلئ چې په دې کې له ۹۵۰۰۰۰ څخه زیات کډوال او خلک بشري مرستو ته اړین وو. دا ژور او سوله ییز بدلونونه د ملي ځواک او ویاړ سرچینه ده

# د بیا کتنې څخه کلیدي موندنې

پلاوي له۱۴۳۰څخه زیاتو کسانو او ۷۵۰سازمانونو سره د مشورې لپاره ټولې استرالیاکې سفر کړئ
په ډېرو لیدنو کې پلاوي دا وموندل:

- په داسې حال کې چې حکومت باید د تبعیض دمخنیوي لپاره، مساوي فرصتونو ته د ودې د ورکولو او پیاوړي عامه خدمتونو ته دلاسرسي لپاره قوانین او پالیسي رامنځ ته کړي، ټول هغه خلک چې استرالیا خپل کوربولې زمونږ د کلتوري ټولنې د پایښت لپاره په مسوولیت کې برخه واخلي.
- سیمه ایزې ټولنې په زیاتیدونکې توګه له کلتوري پلوه ډول ډول دي او د څو کلتوري کیسې یوه مهمه برخه ده.
- ډېر لاملونه داسترلیا ډول ډول ژوند جوړوي حکومت بایدد پالیسۍ د جوړولو په وخت کې د تبعیض ډولونه په پام کې ونیسي
- ځوانان، څوک چې داسترالیا څو کلتوري راتلونکې تعریفوي، باید د پالیسۍ د جوړونې په زړه کې وي.

دپلاوې ۲۹ سپارښتنې د بیاکتنې له دریو اصلي اصولو څخه راپورته کیږي:

- **اړیکه** - د حکومت او ټولنو د ټولو کچو ترمنځ د مشرتابه، پلان جوړونې او حساب ورکونې له لارې د څو کلتوري استرالیا بنسټ اېښودل
- **پېژندنه او ټراو** - د انګلیسي ژبې د پروګرامونو، د تابعیت د پالیسۍ، هنر، کلتور، سپورت او رسنیو کې د ګډون له لارې د ښه راغلاستې استرالیا رامنځ ته کول.
- **شاملول** - په عامه خدمتونو کې د کلتوري وړتیا لوړول، د وړیا پروګرامونو تخصیص ورکول، د شمېرښود شمولیت او دژبې د خدمتونو ځواکمن سکتور، د ځوانانو او سیمه ایزو ځایونو ځانګړې اړتیاوې پوره کول.

دا د استرالیا د څو کلتوریزم تر ټولو مهمه او دقیقه بیا کتنه ده چې لا تراوسه تر سره شوې نه ده. حکومت ژمن دئ او د چوکاټ اصولو ته به لارښوونه وکړي، څنګه چې مونږ خپلې ژمنې ته وده ورکوو ترڅو د استرالیا د څو کلتوري اېښوونو په اساس د استرالیایانو له وړتیاوو څخه د ګټې ډاډ تر لاسه کړو